# د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې معنوي صنعتونه

Dr. Nagina Khanum Nageen[1] Saeed Ahmad[2]

**ABSTRACT**

*Khushal Khan Khattak is the most known Pashto poet. His personality needs a foresight, deep knowledge and study to understand him. Khushal Khan Khattak has colored his poetry with colors and shades by using different techniques. He has tried to make his poetry stunning one by introducing different genres of diligence. He was well aware of this technique so he used the same in his poetry with more attractiveness, charm and beauty. This paper will highlight this aspect of his poetry in depth.*

## پېژندګلو او ادبي مقام:

خوشحال بابا د پښتو د کلاسک ادب هغه قهرمان، مبارز او نابغه شخصیت دے چې د څۀ تعارف او تعریف محتاجه نۀ دے. د پښتو ادب په نظم او نثر کښې ئې تلپاتې اثار پرېښي دي. د پښتو ادب په باب، د خپل کار او زیار په حقله د خوشحال بابا دا دعوه یقیناً چې په خپل ځائے درسته او برمحل ده چې:

که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه[1]

"د خپل شعر په تعریف کښې" نومې قصیده د خپل معجز بیان شعر متعلق داسې هم فرمائي:

[1] Lecturer Department of Pashtu, University of Peshawar
[2] PhD Scholar, Department of Pashtu, University of Peshawar

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ
قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو
د اوربشو په ډوډو چې چا شخوند کړ
لعل او در مې ورته اوپئیل د نظم
د مشکنو بنجاره مې مستمند کړ
په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کښې
بندوبست مې د خبرې چند در چند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنی مې د شیراز او د خجند کړ

دغه شان په یوه ... ګویا شوی:

درست دیوان مې لکه باغ د علم کنج دے
په کښې هر رنګه ګلونه هر نهال

خوشحال بابا ... لغوي په خپل کلام کښې ځاے په ځاے په خبره کښې د خوند او رنګ پیدا کولو، په کلام کښې د زور او اثر پیدا کولو او خپل کلام کښې د فصاحت او بلاغت راوستلو د پاره د مختلفو صنعتونو استعمال ډېر په زودار او جاندار انداز کښې کړے دے. خوشحال بابا د دې د اهمیت او طاقت نه ښهٔ خبر وهٔ نو ځکه ئې په شاعرۍ کښې د صنعتونو استعمال د موقعې په مناسبت سره ډېر په زړهٔ راښکونکي انداز کښې کړے دے. خوشحال بابا دا هر څهٔ شعوري طور په شعر کښې راوړي دي او د خپل کلام د سینګارولو سره سره ئې په دې صنعتونو موثر کړے هم دے. د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې د معنوي صنعتونو په حقله د بحث نه وړاندې د دې ضرورت او اهمیت او مفاهیم واضحه کولے شي.

## فصاحت و بلاغت:

هر انسان دا غواړي چې د هغهٔ کلام دې اثر ناک هم وي، اغېز ناک هم وي او دا دې د مخاطب د حال مطابق هم وي. د هغهٔ په کلام کښې دې نوے والے هم موجود وي او خبره دې په مختلفو طریقو او

3

مختلف اندازونو کښې هم شوي وي . د هغهٔ په کلام کښې دې د ابلاغ پوره پوره قوت او صلاحیت هم موجود وي. کله چې انسان دا غواړي نو پکار ده چې د هغه کلام دې فصیح هم او بلیغ هم. د فصیح کلام خوبي فصاحت ګڼلې شي او د بلیغ کلام خوبي بلاغت ګڼلې شي . په کلام کښې د فصاحت او بلاغت پېدا کولو او کلام د موثر کولو د پاره د ادب ماهرانو د درې علمونو زدکړه ډېره ضروري ګرځولې ده یعني علمِ معاني، علمِ بیان او علمِ بدیع . په دې درې علومو کښې موخرالذکر یعني علمِ بدیع په کلام کښې لفظي او معنوي ښائیست او ښکلا پېدا کوي . د کلام خوند او رنګ سېوا کوي . کلام ته افاقیت او عالمګیریت بخښي او کلام ته نوې معنې او نوے رنګ بخښي . د علم بدیع په حقله سید تسنیم الحق کاکاخېل لیکي :

"بدیع په لغت کښې نوي څیز ته وئیلې شي او په اصطلاح کښې هغه علم ته وائي چې د کلام د ښائست او په نوي طرز وینا طریقې وربانديې معلومېږي."[4]

مشتاق مجروح یوسفزے د علم بدیع په حقله خپل خیالات داسې څرګندوي او لیکي:

"بدیع په اصطلاح کښې هغه علم ته وائي چې د کلام ښائست پرې معلومېږي، یعني علمِ بدیع هغه قاعدې دي چې که چرې هغه په یو کلام کښې په کار راوستے شي نو د علمِ په کلام کښې به حسن پېدا شي."بې ویشلې دے او هره برخه په مختلف صنعتونو مشتمل ده . د علم بدیع د تقسیم په حقله مشتاق مجروح یوسفزے لیکي:

"د علم بدیع دوهٔ قسمونه دي . یو ته صنائع لفظي یعني لفظي ښائست او بل ته صنائع معنوي یعني معنوي ښائست وئیلې شي . دا په نظم کښې هم کېدے شي او په نثر کښې هم ولې په نظم کښې په نسبت د نثر ډېر خوند کوي . په کلام کښې د لفظونو ښائست ته صنائع لفظي او په مفهوم او معنو کښې اثر او حسن ته صنائع معنوي وائي."[6]

خوشحال بابا د پښتو ژبې نوموړے او پیاوړے شاعر دے چې د خپل رنګین شعر په برکت پوره شهرت او مقبولیت لري . خصوصاً د خوشحال بابا غزل د خپل ځانګړي اندزا او اسلوب په وجه د نورو کلاسیکي شاعرانو نه جدا او ممتاز ښکاري . د دغه منفرد خصوصیاتو په وجه د خوشحال

4

بابا غزل ممتاز هم دے او منفرد هم دے. هغۀ د پښتو غزل د نوي
په دې حواله ئې پښتو غزل معراج ته رسولے دے . د هغۀ په غ
لوازماتو سره موجود دے.

د کلاسيکي شاعرانو يو ښکاره اړخ او د کلام خاصه دا ده چې هغ
او بلاغت پېدا کولو د پاره، په کلام کښې د خوندور او رنګ پېد
اغېزه او اثر پېدا کولو د پاره عموماً د مختلف صنعتونو استعمال
کلام کښې د نورو ډېر لوازماتو او صنعتونو سره د معنوي صنع
سره کړے دے. معنوي صنعتونو د خوشحال بابا کلام ته په فني ل
ده. د هغوي کلام ئې موثر کړے هم دے او منفرد کړے هم دے.

د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې د معنوي صنعتونو د تذکرې
معنوي صنعت تعريف اوکړے شي. معنوي صنعت څۀ ته وائي
خټک ليکي:

"هغه صنعتونه چې هغه د شعر د معني، مفهوم او مضمون
څه کار را ي، د د قسمونه دي ګڼ".[7]

اوس د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې د څۀ معنوي صنعتونو تذک
چې د هغوي په لوړ ادبي مقام دلالت هم کوي:

( ۱) تدبيج صنعت :

"په کلام کښې څو مختلف رنګونو ذکر کولو او راجمع کولو ته "ص
معني د ښائسته کولو او مزين کولو ده خو په اصطلاح کښې دې ت
رنګونو کښې د کنائې يا ايهام په طور بيان کړے شي. په دې صنع
نۀ دے خو دا يا لرل پکار دي چې دلته رنګونه په خپلو حقيقي
اسانو لفظونو کښې داسې وئيل به مناسب وي چې په کوم شعر
ېحقيقي معاني ۀمراد ن وي نو هغه صنعت تدبيج وائي".

صنعت ته وګورئ: ېډ ښېشعر ک ېډ خوشحال بابا په د

5

غابن ئې دُر گوهر په لب شکر ابرو کمانه
تور بانهٔ ناوک په دواړو سترگو خونخوارا
پوزه ئې غنچه ده د زنبق سیب سپینه زنه ئې
مښک په مخ خالونه په مخ کښلې مه پارا
واره ئې د تن جامې گلگوني زر نگارې
درسته سره لمبه وه چا لیدله خدارا [9]

( ایهام: ۲) صنعتِ

"په کلام یا شعر کښې داسې خبره کول چې دوهٔ معنې ترې اخستے شي یوه نیزدې او بله لرې، او د شاعر مراد هم هغه لرې معنې وي، کومې ته چې ذهن زر نهٔ رسي . یوې ته معنې قریب او بلې ته یې. صنعت ته صنعتِ ایهام وئیلے شي". [10] یې ښېشعرونو ک یې خان بابا په د صنعت ته اوگورئ:

میخانه یوه هزار پکښې خمونه
د مستانو ئې نعرې دي چې مے مے
زۀ خوشحال چې د وحدت په میو مست یم
ڇایم دا چې کاوس کله دے کے [11]

) صنعت ایهام تضاد: ۳)

"کلام یا شعر کښې دوه داسې مفهومونه ذکر کول چې په حقیقت کښې په هغې کښې تضاد نهٔ وي ولې کلام د اسلوب د وجه په هغوي په ښې ک قسم یو تضاد له ې محسوس ی" [12] اپا په دې لاندې شعر کښې دې صنعت ته وگورئ:

یاد مې هغه وخت دے چې په شپه به سره ناست وو
ښمع ژبه ار رک صراحي ه خندبه دله ي

6

دې شعر کښې د شمعې په سوزېدو او د صراحې په قُل قُل کښۀ څۀ تضاد نشته ولې شاعر د ښېې تضاداً ظاهر ېداپ ےړک دے "اپه راوړلو دې[14]

) صنعت مبالغه: )۴

"کلام يا شعر کښې يو څيز په ضعف او شدت کښې داسې حد ته رسول چې هغې حد ته رسېدل ئې ناممکن يا محال وي. تر دې چې د اورېدونکي دا ګمان پاتې نۀ شي چې ګني يوه بله درجه يا مرتبه اوي هم ده ".[15] د خوشحال بابا په دې شعر کښې دې صنعت ته وګورئ:

د خوشحال سره چې کښېني يو څو کاله
د خۀغر کښې وابه ۀ شاعران يئ[16]
لا په خوب کښې په لرزه پرېوځي له کته
چې د چا[17]

( عکس صنعت : )۵

"په شعر کښې وړومبے يوه خبره بيانول او بيا هغه وروستو کول او وروستۍ خبره مخکښې کولو ته "صنعتِ عکس" وائي ".يکارونه[18] د خوشحال بابا په دې لاندې رباعي کښې شوي ده:

زر غُر ځوونے شه، ځوانان ساتونے شه
ځوانان ساتونے شه، زر غر ځوانے شه
د هر چا وړونے شه، سرداري کړونے شه
ونے شه، د هر چا وړونے شه ر[19]

دغه شان د خوشحال بابا دا لاندې ټول غزل کښې د دې صنعت استعمال شوے ولې خو مطلع او مقطع ئې نمونې په توګه رانقل کولے شي.

راته نيسې جانانه د شرابو پيمانه
د شرابو پيمانه راته نيسې جانانه
دا غزل دے رندانه ما خوشحال ختک وئيلے

7

مـــا خوشـــحال ختـــک وئـــیلے دا غـــزل دے رندانـــه [20]

یا د خوشحال بابا دا شعر:

د دنیـــا پـــه پریشـــانۍ کښـــې جمعیـــت دے
پرېښـــې شـــاني ده په جمعیـــت کې [21]

(۶) تقسیمِ صنعت :

"کلام یا شعر کښې څۀ څیزونه او د هغې مناسبات داسې ذکر کول چې د هر یو تعین شوے وي چې د فلانې یېز څ سره دے". شعر کې ځانله ېي خوشحال بابا په د [22] ښېي د دې صنعت پکارونې ته وګورئ:

دوه ســرې پــه بــاغ کښــې ګــډ شــي يــو ګــل ګــوري
رګي پـــه طلـــب د خـــار او خـــسځـــه [23]

"خوشحال بابا وائي چې دوه تنه په باغ ورګډ شي يو ګلونه ګوري او بل د خار او خس لټون کوي. ښيه ېي عملونو پسې ځرګ ځي او ېي ک په بدو پسې". [24]

(۷) لف صنعتِ نشر و :

"په کلام یا شعر کښې د څو څیزونو د یو ځاے ذکر کولو نه پس داسې نور څۀ څیزونه ذکر کول چې د وړومبو سره تعلق او مناسبت لري. د شعر هغه برخه چې وړومبي څیزونه پکښې ذکر شوي وي هغې ته "لف" او دويمې برخې ته په کومه کښې چې د ... څیزونو سره مناسبت ... ، څیزونه د صنعت لف لي شوي وي وړاو نشر" وئیلے شي" ... ي په دې [25] ډول دے:

لف و نشر مرتب:

8

"چې ورومبے د یو څو څیزونو ذکر اوشي او ورپسې د نورو مناسبت لرونکو څیزونو ذکر هم په هغه وئیلے شي" ." لاندې خوشحال بابا په د نشر مرتب[26]
شعر کښې دې صنعت ته وګورئ:

یـــو پـــه ظلــــم یـــو پـــه مکـــر نـــور څـــۀ نشـــته
ســـــیال ځــــاج وي کـــــه یزیـــــد وي د د[27]

## لف و نشر غېر مرتب:

"د لف و نشر هغه قسم چې په کښې لفظونه په ترتیب هم نۀ وي راؤړلے شوي او د یو بل اړوته هم نۀ وي راؤړلے شوي یعني نۀ مرتب وي او نۀ معکوس بلکې بې ترتیبه ذکر شوي وي نو دې صنعت ته "صنعتِ لف و نشر غ ر مرتب وئیلے شي" " "خوشحال بابا په قصیده کښې په یو[28]
شعر کښې د دې صنعت استعمال داسې کړے دے:

چـــې قـــانع د زمـــانې پـــه خشـــک و تـــر یـــم
کـــه مـــې پېژنـــې بادشـــاه د بحـــر و بـــر یـــم[29]

## ( طباق صنعتِ ( ۸ :

"یه یو شعر کښې دوۀ مخالفې معنې سره یو ځای کړل شي ته "صنعت تضاد یا صنعت طباق" وئیلے
شي" .[30] لاندې خوشحال بابا په د لاندې شعرونو کښې د
انداز کښې شوے دے او د دې صنعتونو په برمحل استعمال سره ئې خوند او رنګ یو په دوۀ شوے دے:

د دۀ پـــــه حکـــــم بـــــالاپســـــتي شـــــي
مســـــتي خمـــــار شـــــي خمـــــار مســـــتي شـــــي
نــــــۀ تــــــل بهــــــار وي نــــــۀ تــــــل خــــــزان وي
ســــتي لـــــري ږ ږ ســــتي هســــتي شــــي[31]

د خپل ناخلف ځوي بهرام متعلق په یوه قصیده کښې په دې لاندې شعر کښې د دې صنعت استعمال څۀ په داسې انداز کړے دے:

9

اکــــــوړے، یحـــــــي، شـــــــهباز واړه مـــــــزري وو
و پــــــه قطـــــار ربـــــم د ګېـــــد[32]

## (۹) حسنِ صنعت : تعلیل (

"په شعر کښې د یوې خبرې د ثابتولو د پاره داسې دلیل راوړل چې په حقیقت کښې ئې دلیل نۀ شي ړېجو دے ته ې صنعت حسن تعلیل" وئیلے شي" ـ ېخان بابا په د ځلاند ښې شعرونو ک ېډ صنعت ته اوګورئ:

لــــه دې خــــاورو نــــه چـــې ګـــل زېـــږي خوشـــحاله
تــــل وردرومـــــي مـــــاه جبینـــــ ې ې[34]

"دے شعر کښې خوشحال بابا وائي چې له خاورو نه ګلونه ځکه راټوکیږي چې ډېر ښکلي خلق په دې خاورو کښې ښخیږي[35] حالانک

یا د خوشحال بابا دا شعر:

مــــخ د یـــــار لــــه خــــط و خالــــه مســــتغني دے
خپلـــــه کــــوره ېـــر اســــباب لــــه[36]

## (۱۱) صنعت تنسیق الصفات:

"کلام یا شع د یو ښې یز یا تن ځ صفتونه بیانولو ته تنسیق الصفات وائي ګڼ "[37] دخوشحال بابا په دې شعرونو کښې دې صنعت ته وګورئ:

د جهـــان پــــه مــــخ بــــه نــــۀ وي هســــې تــــا غونــــدې دلبــــره
پــــرې رویــــه، عنبــــر بویــــه، ســــنبل مویــــه، ســــمن بــــره
ګلعــــذاره، زلفــــي مــــاره، شهســــواره، خــــوش رفتــــاره
بــــاده نوشــــه، مــــے فروشــــه، وصــــب پوشــــه، مــــو کمــــره
دلنــــوازه، ســــرفرازه، عشــــوه ســــازه، لعبــــت بــــازه

11

38 خـــود پســـــنده، ســـر بلنـــده، شـــکر خنـــده، لـــب شـــکره

(11) صنعت مخاطبه:

"اکثر شاعران په کلام یا شعر کښې ځان ته یا خپل محبوب ته یا بل چا ته مخاطبه کوي. دا مخاطبه یوا ځې ښې مقطع کښې نه کیږي بلکې ښې هر شعر کې کیدے شي"[39] بابا په دې شعر کښې دې صنعت ته وګوره:

د ســـــبا بـــــاده! ګـــــذر پـــــه چمـــــن بیـــــا کـــــړه

پـــــه چمـــــن کښـــــې رنګـــــا رنـــــګ ګلونـــــه وا کـــــړه[40]

او یا د خوشحال بابا دا شعر:

د ســـــبا نســـــیمه! راشـــــه و ګلشـــــن تـــــه

ګـ ګونـــــــو انتظـــــــار دے شـــــــفتن تـــــــه

(21) صنعت تاکید المدح بما یشبه الذم:

"هر کله چې په یو شعر کښې د چا مدح په داسې طریقه شوې وي چې وي خو مدح او انداز ئې د هجو صنعت ته صنعت تاکید المدح بما یشبه الذم وئیلے شي"[42]

پـــه ښائســـت کښـــې ئـــې تقصـــیر د صـــورت نشـــته

خـــو دا عـخـــه ب لـــري چـــې ـــي رږیـــه ز ګـنـــ دے[43]

یا د خوشحال بابا دا شعر:

د ښائســـــــــت کمـــــــــے ئـــــــــې نشـــــــــته

ځولـــــ ـې ـــــار مـــــ رؤیـــه ز ګـنـــ دے

(31) صنعت تاکید الذم بما یشبه المدح:

"په داسې طريقه په کلام يا شعر کښې د چا بد وئيل چې ظ ا ه ا ت ع ـ ف ، ا م ، ا ح معلوميږي خو په حقيقت کښې " هجو وي" 45
لکه د خوشحال بابا دا شعرو

ښهٔ عادل بادشاه پيدا شهٔ

اورنګ شاه د دين غمخور

خپل پلار تري په عدل

په فتوه وژني خپل ورور

) صنعت براعته الاستهلال: (۴۱

"د کلام په ابتدا کښې راروان مضمون ته په لطيف انداز کښې اشارې کول ـ ت ه براعته الاستهلال وائي" 46
لکه د خوشحال بابا دا شعر:

خدايه تهٔ په زړهٔ کښې اچوے دا مينې

چې په ښکار دې مبتلا کړم تهٔ مې وينې

دې شعر کښې د "ښکار" د لفظ راوړلو سره راروان مضمون يعنې د بازونو او ښکارونو ذکر ته اشاره شو ده ي

) صنعت تصليف يا تعلي: (۵۱

"دې صنعت ته شاعرانه تعلي هم وائي. شاعران اکثر د خپل ځان باره کښې د ډيرې مبالغې نه کار اخلي. دې صنعت ته تصليف يا تعلي وائي" 47 خوشحال بابا په خپله شاعرۍ کښې ځائے په ځائے د دې صنعت استعمال کړے دے. د مثال په توګه:

چې خوشحال خټک ئې وائي په پښتو ژبه خبرې

پوهه که يې ږ سخن ه يې په نهٔ وي 48

) مراعات صنعت : النظير (۶۱

"په شعر کښي داسې الفاظ راول چې تضاد نه وي بلکې مناسبت لري او د يو بل سره يې سلسله داسي وي صنعت ته يې مراعات النظير" وئيلے شي" "يې خوشحال بابا په دې لاندې شعر

کښي دې صنعت ته اوګورئ:

هـــيڅ صـــفت ئـــې نـــۀ څـــائيږي پـــه تحريـــر کښـــې
چـــې دې زلفـــې مشـــک عنبـــر کـــړم پـــه نظيـــر کښـــې
ســـتا د مـــخ د شـــونډو مثـــل رامعلـــوم شـــو
لکـــه نهـــر د جنـــت شـــهد پـــه شـــير کښـــې
لکـــه بـــوي د يـــار د زلفـــو دے عطـــاره
پهســـ ښـــې بـــوي نشـــته پـــه مشـــک و پـــه عبيـــر کښـــې[50]

صنعت تلميح:[٧١]

"په خپلو اشعارو کښي څۀ مشهورې واقعې يا متل ته اشاره کول چې پوره خبره اونۀ کړے شي په نوره قيصه مخاطب ته خپله معلومه ده يې صنعتِ تلميح" صنعت ته وئيلے شي" "لکه "خوشحال بابا الله تعالي ته داسې مخاطب کيږي چې د کائناتو د جوړښت عظيمې واقعې او قراني تصور ته پکښي اشاره شوې ده:

مزکـــه ســـبعَ ســـمواته، دواړه کونـــه کائناتـــه
د نـــورو لـــه مـــدده پيدا کـــړل، بـــې[52]

په دې شعر کښي خوشحال بابا د کائيناتو د تخليق په حقله د قران پاک دې ايت ته اشاره کړې ده:

"هُوَ الّذِی خَلَقَ لَکُم مَا فِی الاَرضِ جَمِیعاَ، ثُمَ استَوَیٰ اِلَی السَمَاءِ فَسَوَّهُنّ سَبَعَ سَمَوَاتِ، وَ هُوَ بِکُلِّ شَيءِ عَلِیم"[53]

خدا کيږي ل ړې پيدا يې اراده وکړه د مکه کښي هر څۀ ئې ستاسو د پاره پيدا کړل بيا يې اسمانونو او اووۀ اسمانونه ئې اودرول او هغۀ په هر څۀ خبردار دے۔

13

هم په دې مذکوره قصیده کښې خوشحال بابا د حضرت بلال رضي الله عنه متعلق یوې بلې اهم او تاریخي واقعې ته هم اشاره کړې ده چې د صنعت تلمیح غوره نمونه ده:

تــهٔ پوښـــتنه کــړې لـــه حالـــه، چـــې حـــال ښـــهٔ وهٔ تـــر قـــال
د بـــلال اســـهد قبـــول شـــهٔ، د دیـــو نـــورو لـــه اشـــهده [54]

په دې شعر کښې د لفظ "اسهد" د وضاحت په ضمن کښې ډاکټر یار محمد مغموم د خوشحال بابا د کلیاتو په فرهنګ کښې لیکي:

"حضرت بلال رضي الله عنه د رسول کریم صلي الله علیه واله وسلم خصوصي موذّن وهٔ. د افریقي د باشنده کېدو په وجه به هغوي د "شین" په ځاے "سین" وئیلو او ځکه به ئې د "اشهد" په ځاے "اسهد" ادا کولو. لیکن سره د دغه لکنته چونکې د هغوي نیت او عمل پاک وهٔ نو د هغوي "اسهد" د "اشهد" په مقابله کښې مقبول ګڼلے شو" [55]

( ) ارسال صنعتِ: المثل

صنعتِ ارسال المثل" وئیلے شي" ﺻﭖ طریقه ذکر کولو ته [56]
خوشحال بابا په خپل کلام د نورو ډېرو محاسینو سره د صنعت ارسال المثل استعمال هم په ښهٔ انداز کړے دے:

پـــــه هـــــر شـــــام پســـــې ســـــحر شـــــته نظـــــر وکـــــړه
وکـخــ ښـــغمـــژن شـــي بیـــا بـــه ښاد شـــي [57]

( ) جمع صنعتِ:

"ګڼ" یزونه د یو حکم لاند ځ یا په یوه زمره ک ي راواستلو ته ښـې صنعتِ جمع
خوشحال بابا په دې لاندې شعر کښې د یو حکم لاندې داسې په هنر راوړلي شوي د؛ وئیلے شي" ي بې شانه ښکلا بخښلې ده:

غتـــــي ســـــتركي، لـــــوے بانـــــه، فراخـــــي وروځـــــي
شـــــكر لبـــــي، ګـــــل رخســـــي ، مـــــاه جبينـــــي[59]

الغرض خوشحال بابا يوه همه ګير او نابغه شحصيت وۀ . د هغوي په شاعرۍ کښې ګڼ اړخيز او هر اړخيز مواد موجود دي . د غه مواد هغوي د موقعې په مناسبت سره په خپله شاعرۍ کښې مخې ته راوړي دي . د دغه معنوي صنتتونو برمحل استعمال كه يو اړخ ته د خوشحال بابا پراخه مطالعه ښكاره كوي نو بل اړخ ته د خوشحال بابا هنر كاري او فن كاري هم په ګوته كوي . د مختلف صنعتونو په برمحل استعمال سره خوشحال بابا خپل كلام ته لفظي او معنوي ښائست بخښلے دے او خپل كلام ئې په دې ممتاز كړے دے . د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې نورو بلها محاسنو سره سره د لفظي او معنوي صنعتونو استعمال هم په پوره التزام او اهتمام سره شوے دے . دې صنعتونو د هغوي په كلام او بالخصوص په غزل کښې يو نوے روح پوكلے دے . د هغوي كلام ته ئې ارفعيت او علويت بخښلے دے او د هغوي كلام ئې منفرد كړے او ممتاز كړے هم دے . د صنعتونو په استعمال کښې خوشحال بابا ځان د يو صنعتكار او فنكار استاد په حېث راڅرګند كړے دے . خپل معروضات د ډاکټر اقبال نسيم خټک د صنعتونو د اهميت په حواله په دې معتبره رائې پائې ته رسووم چې:

"حقه خبره دا ده چې په منظوم كلام کښې لفظي او معنوي صنعتونه ډېر خوند كوي او په تېره تېره د غزل د پاره خو دغه قسم ته صنعتونو د نقش و نګار حېثيت لري او غزل بغېر د دې نه نامكمل ښكاري، ځكه خو د غزل استاذانو د دغه صنعتونو نه په خلاص مټ فائده پورته كړې ده او پورته كوي ئ ي"[60]

15

# حوالي:

1 ن خوشحال، مرتب ي بک ایجنسي ختسید رسول رسا، یونیورس بر بازار پېښور، ۹۱۱۲: ۴۵۷

2 د خوشحال خان خ ک کلیات، مرتبۀ عبدالقیوم ي، دانش خپرندویه زاهد مشوا ولنه، ۲۱۴۰۸ص: ۳۶۵

3 د خو ډ تاک ي یار محمد مغموم، یونیورس بک ایجنسي خ بر بازار پېښور، ۶۱۱۲: ۸۵۱ ء، ص

4 کاکاخ ل، تسنیم الحق، روحِ ادب، پښتو اکېډمي ورپېښور پوهنتون، ۷۷۹۱: ۸۹

5 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، تاج کتب خانه پېښور، جون ۸۹۹۱: ۹۴

6 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، صفحه: ۱۵

7 نسیم، اقبا ک، اکډ ر، د رنتو او بو قافله، اداره علم ادب پاکستان پېښور، جولای ۱۹۹۲ء: ۹۶۳

8 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، قلندر مومند ریسرچ سنټر ل، شپږم ل، ۲۱۹۹ء ص: ۱۲۲

9 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۷۷۴، ۸۷۴

10 مشتاق مجروح یوسفزے، رزکا ے: ص ۵۹

11 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۶۱۸

12 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، صفحه: ۲۴۲

13 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۹۲۶

14 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، صفحه: ۳۴۲

15 همدغه اثر، ص: ۷۴۲

16 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۲۸۷

17 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۲۸۷

18 نسیم، اقبال خ ک، اکډ ر، د رنتو او بو قافله، ص: ۲۷۳

19 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۱۴۳

20 همدغه اثر، ص: ۵۳۷

21 همدغه اثر، ص: ۱۱۷

22 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، صفحه: ۹۳۲

23 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۴۹۵

24 مشتاق مجروح یوسفزے، زرکا ے، صفحه: ۱۴۲

25 همدغه اثر، ص: ۵۹

26 همدغه اثر، ص: ۵۹

27 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۳۷۱

28 مشتاق مجروح یوسفزے، رزکا ے، صفحه: ۶۹

29 د خوشحال بابا کلیات، مرتب ډ ریار محمد مغموم، ص: ۵۲۲

16

30 کاکاخ ل، تسنیم الحق، روحِ ادب، ص: ۸۹
31 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۵۱۴
32 همدغه اثر، ص: ۵۹۱
33 نسیم، ا ک، اکډ ر، د رنځ او بو قافله، ص گ: ۳۷۳
34 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۳۷۶
35 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۱۵۲
36 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۵۳۵
37 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۳۵۲
38 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۸۴۵
39 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۷۵۲
40 د خو، ډ ګ ریار محمد مغموم، ص: ۹۲۷
41 همدغه اثر، ص: ۳۱۵
42 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۳۶۲
43 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۶۸۸
44 همدغه اثر، ص: ۱۹۷
45 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۴۶۲
46 همدغه اثر، ص: ۴۶۲
47 همدغه اثر، ص: ۷۵۲
48 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۹۸۸
49 مشتاق مجروح یوسفزے ے، صفحه ۱۱۱
50 د خ ډ ال بابا کلیات، مرتب ریار محمد مغموم، ص: ۸۱۹
51 کاکاخ ل، تسنیم الحق، سید، روحِ ادب، ص ۸۳۱
52 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۸۴۱
53 القران الکریم، سوره البقره، ایت: ۹۲
54 د خ ډ حال بابا کلیات، مرتب ریار محمد مغموم، ص: ۹۴۱
55 همدغه اثر، ص: ۱۶۳۱
56 مشتاق مجروح یوسفزے، ے، صفحه ۳۱۱
57 د خو، ډ ریار محمد مغموم، ص: ۹۱۹
58 نسیم، ا ک، اکډ ر، د رنځ او بو قافله، ص گ: ۷۷۳
59 د خ ډ ریار محمد مغموم، ص: ۱۶۶
60 نسیم

۴۶۳